**ليکونکی :** پيپ اسکوبا ر (Pep Escobar).
**منبع او خپريدو نيټه :** انفارميشن کليرنګ هوز «01-11-2020».
**ژباړونکی :** پوهندوی دوکتور سيد حسا م «مل» .
------------------------------------------------------------

# آيا تاسي کولی شي هغه څه بوی کړي چي چينايان پخلي کوي

## Can you smell what the Chines are cooking

يوازي له يوي اوني څخه وروسته کله چي دامريکی متحده ايالات د اولسمشري ټاکني کي دلوبي بد لون رامينځته کړي نوددي هيواد اصلی اوواقعي جيو پوليټيکي اوجيو ايکونوميکي کړنی تقريباً با ند نی نړی ته د ليدو وړ نه دي.

مونږ د«چين» د کمونيست ګوند د مرکزي کميټی د پنځم پلينوم په اړه خبري کوو ، کوم چي دا تيره دوشنبه په پيکن کي پخپل کا ر پيل کړ.

پلينوم (200) او(100) نفر علی البدل ګډونکونکي غړی کوم چی د **چين** دمتمد ن دولت د تصميم نيلو عالی ارګان يا دغربی ليبرال دموکراسي له نظره ورته د **چين** کنګره ويل کيږی غونډی ته را وبلل.

د دی پلينوم په اجندا کي د(**چين**) د کلی برنا مي د څوارلسم ، پنځه کلن (2021-2025) پلان ، دپلينوم د غونډی په پای يعنی د پنچشنبی په ماښام کي به ديو اعلاميی په ترڅ به ترسره شي ، او دهغه دجزياتو کړنلاره يا دپاليسی څرنګوالي به دڅو راتلونکو اونيو په درشل کي څرګند شي او د پلينوم ټول پريکړي به په رسمي بنی سره د خلکو د ملی کنګری (National people congress) له خوا د ما رچ ميا شتي کا ل (2021) کی به تصويب شي .

دټولو عملي اهدافو لپاره دابايد هغه څه په پام کي ونيول شي چی د«**چين**» مشرتابه واقعاً فکر کوي .

## چينی سيستم وګوری :

د«**چين**» اولسمشر **څی(Xi)** دپراخ کاری راپور په ورکولو سره د « **چين** » دپنځلس کلن پلان مسوده اوبيا تر کا ل (2035) پوری د «**چين**» ټولو وړاندی کړ شوی هدفونو ته درسيدو د لاری چا ری په نظر کی نيولو سره په ليکولو ډير بخت او مشغول دي .

هغه يعنی **څی «xi»** د **چين** لپاره په کلکه د (دوه ګوني چلند) سترتيژی باندی ټينګار وکړ چي دداخلی اقتصاد تمرکز ته وده ورکول دي ، په داسی حا ل کي چي دا بايد دبهرنی تجارت اوپانګونی سره پوره توازن ولري ، په حقيقت کي يوه ښه او په زړه پوری تعريف له **چينی ما ندرين** (Mandarin = د چينا يی دخبرو يوه څانګه يا شاخه دی چي دهغه هيواد په شما ل اوسيدل ولويد يز کی خبری اتری کيږی ............ تفصيل ددی قلم پواسطه ) څخه ژبا ړه شوی يعنی « دوه ګونی پراختيا يی تحرک » د **چين** اولسمشر **څی (Xi)** پخپل ياد کړ شوی ټکو کي اصلی هد ف دا سی څرګند کړ : د (**اعتدال لرونکي سوکا لي ټولني**) حا لت ته د رسيد و لپا ره په کا ل (2020) بشپړ شوی حتی د **کوبډ نولس** د پا ند يمی په موجوديت سره سره ، غربت يا بی وزلی له مينځه وړل شوی .

بل ګام داوړدی مودی لپاره دنړيوال سوداګري د بحرانی موضوع مسلو سره معا مله کول دي ،

دچینی محصولاتو لپا ره لږ تقاضا یا غوښتنه اود بی ثبا تی مختلف درجی د **چین** د تولیداتو د نه ودریدونکی زیاتوا لی له امله را مینځته کیږی.

د پیکن لپاره کلیدی لمړیتوب کورنی اقتصاد دي ، د «**چین** » د محصولاتو د لوړ کیفیت پراختیا ته د ودی ورکولو لپاره اصلی تخنیکي اهدافو ته رسید و سره په لوړه کچه د «**چین**» د پرمخ تللی تامینا تو د ځنځیرونو د ادغام اود جوړوني په معنی دي او بیا دلته داړینی اداری داصلاحاتو د پلی کولو پیچلي او ککلیچ سرک په مخ کی دي .

په جد یت سره د «چین » دصنعت او معلوماتی تکنالوژی وزارت ، شرکتونه ، لار ښونه کوي چي په اصلي تکنالوژی کي پانګونه وکړي کومچي د(5G) دبرنامو**دنیمه هادی** (semiconductors) په مفهوم دي یعنی د انترنیت د زیا تو شیا نو یا وسا یلو سره مدغم سرکټونه اود **با یو مید یسن** ( r Biomedicine) دي.

نو تول شیا ن یو ځل بیا د وړی چپ وار (Chip War) او تونی تو تي ډول جګړي په مورد کي دی کوم چي د(AI-5G) سوپرکمپیوټینګ(=supercomputing=دغه اصطلاح د ډیرو کمپیوتري سیستمونو متمرکز کمپیوتري سرچینو په موازی کارکوونکو لکه سوپر کمپیوټنګ کارولو سره د یو پیچلي یا دمعلوماتو ډیر مغلق پروسس یا جریان ته اشاره کوی ...تفصیل ددی قلم پواسطه سره) ، **کوانتیم کمپیتری** (Quantom Computing) ، **مادی سا ینس** ، **با یو تکنا لوژی** د **نوی انرژی** وسایط اود **فضا یی سا ینس** په زره کي دي . د «**چین** »مشرتابه په بشپړ ډول خورا پوها وي لري چي راتلونکي نسل د چپ (CHIP) تکنا لوژی د محور په هاله یا په شاوخوا کی به وڅرخي .

د «**چین**» د سیستم مفهوم د ننه کړي یعنی چي د «تکنا لوژی» په برخه کي د متحده ایالاتو لخوا په پیل شوی «سړه جګړه » سره به څنګه مبارزه وکړي .

د « **چینی سیستم** » معلوما تي تکنالوژی د کا ر پوه **نی ګوانګ نا ن** (Ni Guangnan) له خوا رامینځته شوی چی دهغه مقصد یا منظور په اصلي برخو کي دمتحده ایالاتو د تکنالوژی پر ځای دغه چینی سیستم ځای پر ځای کول دي او هغه هم په شمول د د کلید ی آی تی (IT) زیر بنا یی په کوم جي چي دمتحده ایالاتو تر مشری لاندي (IOE) سیستم یا دهر شی لپاره انترنیت د دریو مهمو اکمالاتو (IBM) ،(Intel) ، او اوراکل (Oracle) پر ا سا س د (IT) شبکي لپا ره انحصار لري ، دخپل ځان پرمخ تللی سربرس (servers) ، دیتا بیس او زیرمه کولو سره ، سیستم د تیټ فعا لیت سره د چپ (CHIP) سټ پر اساس کیدی شی چی د (14) نانومیتر (Nanometer´= nm) یا (7) نانومتر جعلی جوړولو ته اړتیا نه لری .

د متحده ایالاتو له خوار هبری شوی **کراکډون** ( Crackdown = د ناغوښتل شوی یا غیر قانونی خلکو چلند یا د چلند محدودولو یا هڅولو لپاره جدی اقدامات ترسره کول ..... تفصیل ددی قلم پواسطه سره ). اصلی اهداف.

په «**چین** » کي مختلف محا سبی تقریباً سره موافق دي چي ددي کا ل په پای کي د «**چین**» اقتصاد د متحده ایالاتو د (72) سلنه اقتصاد دی ، دولتی شورا وړاند وینه کړه چی د «**چین**» اقتصاد په کا ل (2027) داروپا اتحادیی اوپه کا ل (2032) کی د متحده ایالاتو له اقتصاد څخه به مخکی شی .

مګر که دپی پی پی ( public private partnership =P PP = عامه خصوصی مشارکت ) له خوا اندازه شی لکه څنګه چي (IMF) اواقتصاد پوهان دواړه منلي ، **چین** لا دمخه دنړی تر ټولو لوی اقتصا د دی.

د« **چین**» پنځم پلینوم یو ځل بیا د کا ل (2025) تر درشله د **چینی** محصولاتو په اړه خپل ټول اهداف تکرار کړل ، مګر نور ډیر څه شتون لري اوهغه داچي « **چین**» به په کا ل (2035) کی داسی لږ لید لری اوپر هغه باندي ټینګار کوي چي «**چین** » به په نړی کي به د تکنالوژیکی مشر

په توګه موقف ترلاسه کوي .

د(2035) کا ل لړليد دهغه نيميا يې نقطی په اړه اند يښنه لري چيری چي اوس مونږ اوپه (2049) کی دا به حتمی هد ف وي ترکال (2035) پوری «چين» بايد يو بشپړ مد رن سوسياليست ملت اوپه ځانګړي توګه دسا ينس ، ټکنالوژی اود دفاع په برخه کي يو غښتلی ځواک ومنل شي .

**خی (XI)** د «چين » مشر لا دمخه په کا ل (2017) کی ددی پر شا ټينګار کړي وه چي **«چين»** تر (2035) پوری د« مد رن سيوسيا ليست» نظام به ځښتن وي اوددی ځای ته د رسيد و لپا ره د **«چين »**سيا سی دفتر (politburo) با يد ددي بلند پروانه هد ف لپا ره په لوړ مقيا س ، چټکتيا اود کا ری کيفيت اودهغه نظام د دفاع لپاره نه ستری کيد ونکي ګامونه اوچت کړي .

**د وستفليا (westphalia) هاخوا:**

په دی باندي پاملرنه دادي چي د « **دونالد ترامپ** » دولت د مي د ميا شتي کال (2018) څخه را په دی خوا پر « **چين** » باندی بی امان اوبی ساری لفظی حملی کوی ، يواځی دتير جولای ميا شتی څخه دي چي د **کمونيست چين** رهبری په دوامداره توګه سره هسی چي شد يد او اوږد مبا رزه ګنی خپل ځان د متحده ايالاتو سره په مقا بل کی چمتو کوي .

دغه پرتله کول لکه هسی چي « **د يک شيا و پنګ** » وروکی مد ير يا لارښونکي په کا ل (1938) کی ياد ونه کړي : ( خاطر ته راوړي ،« **ما تسونګ** » په هغه زمانه کي ويلی وه چي «چين» بايد مخکی له دی چي پوره او کافي ځواک ديو ستراتيژی جنګ جګړی لپاره ولري ، بايد له هر څه نه مخکي ددفاع په سنګر کي پاتی شی ،ترڅو چي په پای کي بريالي شي – اوږد جګړه دچا پا ن په مقابل کي ) .

اوس مونږ يو ځل بيا **دوايکي** ( Weiqui = د سيمه ايز ملکيت اودرانيولو دوديز چينا يی بورد لوبه ) تکلاره لرو ، پيکن ته يواځی د شطرنج دلوبی په اوږدوکي په هماهنګ بڼی سره د ضد ضربی وهلوتوان بايد تر لاسه کړي تر څو چي دټکنالوژی خلا وتړی خپل دکور په دننه اونړيوال چينلونه رامينځته کړي چي دمتحده ايالاتو څخه بلکل خپلواک اوسي .

**پيکن** دخلکو لوی نرم ځواک عملياتو ته اړتيا لري ترڅو چي نړی ته وښيي چي څنګه د سا ينس او ټکنا لوژی په لاره اچول د نړيوال دښيګنې لپاره رامينځته کړي؟ اود مثا ل په توګه پرته دنورو هيوادونو څخه **« چين»** با يد د **کوېد نولس** واکسن ترتيب کړي .

په وروستي **پوډ کاسټ** (**podcast** = يو ډيجيټل آډيو فا يل چي په انټرنيټ کې کمپيوټر يا ګرځنده وسيلې ته د ډاونلوډ لپاره چمتو شوی ، په عمومي ډول د لړی په توګه شتون لري نوي قسطونه چي د پيرودونکو لخوا په اوتومات ډول ترلاسه کيدی شي. ) ځما په وروستی کلونو (ستنو) باندي بحث وکړو چي د لانکسن ژيانګ (Lanxin Xiang) کتاب په چينا يي سياست کی دقا نونيت لپا ره اوږده يا سخته بڼه دي .

د **برازيل** او**دچين** کا رپوه ا **ليا س جا بيور** (Elias Jabbour) حيرانونکي جوړښت سره مخ شو، کله چي جابيور(Jabbour) دلوړ پوړو چينا يي پوهانو غږپورته کړ نو هغه ټينګار وکړ چي **«چين»** به د« **وستفا ليا»** = **(دالمان يو ايالت دی)** ديرغل په توګه چلند ونکړي .

نو هغه څه چي مونږ د لته لرو هغه د **«چين»** لمرنی مفهوم دي ، د دي غوره انګليسی ژباړه د (انسا نيت لپا ره ګډه راتلونکي سره تړلنه ده ) په توګه لوستل کيږی يا يا د يږي . په حقيقت کی دا د « **ويستفاليا** » تحريف دی - دننه څخه بغاوت.

**جا بيور**مونږ ته يادونه کوي ، کله چي ما وويل چي ممکن يواځی سوسياليزم به **(چين)** وژغوروي نو ددی معنی يی دا د**ويستفاليا** له ترون څخه وژغورله کوم چي د (سپکاوی پيړی ) په جريا ن کي د«چين » ټوټی ټوټی کول آسا نه کړل .

*نو په پای کې د **خی (XI)** ، **چین** کې د **مارکس** او **کنفنوسوس** ترمینځ ستراتیژیک واده د امکان وړ نه ډیر دی ، جیوپولیتیک څخه تیریږي لکه څنګه چې موږ پوهیږو ، کوم چې په فرانسه ، جرمني او انګلستان کې د ملي نظريې په توګه زیږیدلی ډا لکه څنګه چې **خي (XI)** هڅه کوله ، لکه څنګه چې **جا بیور** یادونه وکړه ، "د کینې لاسي **هیجلانیزم** (Hegelianism) په ځیر اصلي مارکسیزم ته بیرته راستنید ل" ، نړیوالیت ته لیوالتیا ، او دا د **تیا نکسا** د **کنفیو سیو یس** لید سره ګډ ول ، " تول د جنت لاندې ." دا د "انسانیت لپاره ګډ راتلونکي سره ټولنه" ترشا اصلي نظر دی.*

*یو څوک تل کولی شی دا خوب ووینی چې دبل نړۍ پیداینیت واقعاً امکان لري او هغه هم دنړۍ دجنوب دقریب اتفاق داکثر و فرهنګی نوی ژوند درامینځته کیدو په فکر د(چین اود آسیا)داقتصاد دلا غښتلی کیدو اود لاتینی امریکا په حا ل د ودي داستعمار له مینځه وړل اود افریقی د دروند وزن دتیت پیت والي دسمون په خاطر مبارزه کول*
*اما له هرڅه نه مخکی باید د «چین» دپنځه کلن پلان چې په پنځم پلینوم کې تصویب شوی هغه با ید تر سره شي .*

## دلیکونکی په اړه څو کرښې :

***پیپ اسکوبار په لویه کچه په آسیا ټایمز کې خبریال دی .د هغه وروستی کتاب د (سرچینی ترعنوان په کال ( 2030 ) کې دی. په فیسبوک کې یې تعقیب کړئ .***

**--------------------------------------------- -**

***په درناوی (12-11-2020)***